# نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

ژباړه او ټولونه:

زاهد خلیلي

Ketabton.com



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

د کتاب نوم: نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

ژباړه او ټولونه: زاهد خلیلي

ایمېل ادرس: zahidkhalili@yahoo.com

کال: ۱۳۹۲ ل



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فهرست

د پارلمان پېژندنه .......................................................... 6
لومړنی شوراګانې ......................................................... 7
لومړنی منتخب پارلمان ....................................................... 8
د دیارلسمې پېړۍ مهمې پېښې.............................................. 9
انګلستان............................................................... 10
د امریکا کانګرس ........................................................ 16
د فرانسې ملي اسمبلۍ....................................................... 17
روسي دوما ............................................................. 20
د اذربایجان ملي مجلس ....................................................... 21
د ایران د شورا مجلس ....................................................... 22
د پاکستان پارلمان............................................................ 23



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يادونه:

لاندې کوچنی کتابګوټی د پارلمان په اړه دی، چې لومړی په کې پارلمان معرفي شوی دی، لومړنی شورا او د لومړني ټاکل شوي پارلمان په اړه هم په کې معلومات وړاندې شوي دي. په وروستيو کې د نړۍ د ځينو هېوادونو د لومړنيو پارلمانونو په اړه هم لږ معلومات راوړل شوي دي.

ځرنګه چې شرق د نړۍ پر مخ د تمدنونو لومړنی مرکز دی، همداسې د نړۍ لومړني پارلمانونه هم په شرق کې رامنځته شوي دي؛ خو د بشپړو معلوماتو په نه موجوديت کې يې يوازې په يوه پراګراف کې يادونه شوې ده. لرغوني شرقي هېوادونه لکه بين النهرين، مصر او همداسې په لرغوني اريانا کې د خلکو شوراګانې موجودې وې، په ځينو ځايو کې ليدل کيږي، چې اريايي شوراګانو په ريښتيني توګه د خلکو نمائنده ګي کوله او په بشپړ خپلواک ډول يې پرېکړې کولې، چې اوس هم دغه دود د جرګو په شکل د لرغونې اريانا نه اوسني افغانستان ته پاتې دی.

د اسلام دين د حکومت کولو لپاره د شورا موجوديت يو اصل ګرځولی دی، د لومړيو وختونو راهيسې مسلمانان د خپلو ستونزو د حل په موخه سره راټولېدل او په مشوره کولو سره به يې خپلې ستونزې حلولې. دا چې لومړنی ټاکل شوی يا نا ټاکل شوی پارلمان (شورا) په لومړي ځل څنګه او په کوم اسلامي هېواد کې رامنځته شوې ده، هغه به که خدای کول، بل ځای وڅېړم او بيا به يې تاسو سره شريکه کړم. دلته د څو مسلمانو هېوادونو د پارلمانونو يادونه شوې ده، چې نه شي کولای په اسلامي نړۍ کې د پارلمان (شورا) لرغونتيا وښيي، ځکه مسلمانان اوږد تاريخ لري او د شورا موجوديت به يې هم همدومره پخوانی وي.



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

باید یادونه وکړم، چې دغه موضوع ما د تحصیل په دوران کې د یوه استاد په غوښتنه برابره کړې وه، موضوع نوې او په پښتو ژبه یې په اړه ما تر اوسه کوم کتاب یا کومه مقاله نه ده ترلاسه کړې. د دې موضوع د شریکولو څخه زما هدف دادی، تر څو هغه ورونه چې زما په څېر د داسې ستونزو سره مخ دي، ما ورسره مرسته کړې وي او هم یې معلوماتو کې لږ زیاتوالی راغلی وي.

درنښت

زاهد خلیلي



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پارلمان پېژندنه

د پارلمان لفظ د ۱۱ ز پیړۍ د فرانسوي ژبې Parler څخه اخیستل شوی، چې مانا یې Speaking, Talking ده[1].

پارلمان د فرانسوي کلمې Parler څخه اخیستل شوېده، چې مانا یې to talk ده، یانې خبرې کول[2].

پارلمان د خلکو لخوا رسمي انتخاب شوي نمائندګان دي، چې د یو معین وخت لپاره سره راټولیږي[3].

پارلمان د ملت یا خلکو لخوا انتخاب شوي نمائندګان دي. پارلمان په حکومت کې د خلکو لپاره د مقننې قوې په حیث دنده اجراء کوي[4].

هر هیواد د خپلو خلکو د ټولنیز ژوند، نظم او امنیت، د حقوقو د ساتلو، د ملت د ازادۍ او د چارو د منظم کولو لپاره قانون ته اړتیا لري او هم هیواد داسې بنسټونو ته اړتیا لري، تر څو د قانون جوړولو دنده اجراء کړي[5].

ټولټاکنې، د کاندیدو حق، د رایه ورکوونکو شرایط، یو یا دوه مجلسونه او نورې سلګونه مسئلې په هیوادونو کې سره توپیر لري[6].

---

[1] www.memidex.com
[2] www.peo.gov.au
[3] www.memidex.com
[4] www.peo.gov.au
[5] www.hawzah.com
[6] www.hawzah.com



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

مجلس یا پارلمان یوه لویدیځه پدیده ده، چې په لویدیځو هیوادونو کې رامنځته شوې او له هغه ځایه یې نورو هیوادونو ته پراختیا موندلې ده. لویدیځ خپل سیاسي، ټولنیز او علمي پرمختګونه د لرغوني یونان پورې تړي[1].

## لومړنی شوراګانې

داسې اسناد او شواهد په لاس کې شته، چې د خلکو نمائندګانو په لومړي ځل په بین النهرین (اوسني عراق او سوریه) کې غونډې کولې، چې تاریخ یې د ۲۵۰۰ مخزیږدی ته رسیږي[2].

په لرغوني روم او یونان کې د اوسني عصر سره سم پارلمانونه رامنځته شول. د ۵۰۰ مخزیږدی په شاوخوا کې په لرغوني یونان کې پارلمان (Ecclesia) په کال کې ۴۰ ځلې غونډې کولې. په دې غړو کې یوازې نارینه وو، چې عمر یې د ۱۸ کلو نه پورته وه، ګډون کاوه. پریکړې به د غونډې د اکثریت رایو په اساس کیدلې[3].

اتن د لرغوني یونان تر ټولو سرمایداره او لویه ښاري ناحیه شمېرل کیده، چې د یو دولت او ښار (دولت-ښار)[4] په بڼه یې موجودیت درلود. د اتن د ښار اوسیدونکي، چې اصیل او لوی خلک ګڼل کیدل، په همغه وخت کې د یوې ابتدائي دموکراسۍ لرونکي وه، چې د خلکو دولت یې نوموه، په ښار کې به عادي او غلام خلک نه اوسیدل[5].

---

[1] www.etelaf.ir
[2] www.peo.gov.au
[3] www.peo.gov.au
[4] (nation-state)
[5] www.etelaf.com



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمهوري روم، چې په ۵۰۹ مخزیږدي کلونو په شاوخوا کې رامنځته شو، د دوو (۲) شوراګانو پواسطه اداره کیده. د سنا مجلس چې د ۳۰۰ غړو څخه جوړ شوی وه، ټول غړي یې، د سرمایدارو او اشرافو د کورنیو څخه وه[1].

قوانین به د مخلتفو شوراګانو لخوا وضع کیدل، چې ټول غړي یې د اشرافو او خاصو خلکو نمائندګي کوله. دغو شوراګانو به کوم نوی قانون نه جوړوه، بلکې د قانون په اړه به یې رایه ورکوله او یا به یې نوي (ټیټ پوړي) چارواکي ټاکل[2].

د روم په امپراتورۍ کې، چې د سکندر مقدوني د مرګ څخه وروسته رامنځته شوه، هلته هم د سنا په نوم یو مجلس موجود وه، چې غړي د اتن په شان د لویو خلکو څخه وه[3].

## لومړنی منتخب پارلمان

لومړنی منتخب پارلمان په کال ۹۲۰ ز د اکتوبر د میاشتې په ۲۰ نیټه د ایسلنډ په کوچني هیواد کې رامنځته شو. ددې مجلس (پارلمان) غړي په لومړي ځل د خلکو لخوا، د هغوی د رایو په اساس انتخاب شوي وه. ددې پارلمان دنده دا وه، چې حکومت سره فکري همکاري وکړي[4].

د نړۍ په تاریخ کې، لومړي قانوني پارلمان د ایسلنډ په هیواد کې په کال ۹۳۰ز کې خپله لومړنی غونډه وکړه[5].

په حقیقت باید ووایو، چې د نړۍ لومړني انتخاب شوي مجلس یوازې مشورتي بڼه درلوده، مجلس (پارلمان) ته په دغه وخت کې کوم خاص اختیارات نه وه ورکړل شوي[1].

[1] www.peo.gov.au
[2] www.peo.gov.au
[3] www.etelaf.com
[4] www.rasekhoon.net
[5] www.about.com



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پارلمان، چې د خبرو د ځای په مانا ده، دې کلمې د دولسمې میلادي پیړۍ په جریان کې په لویدیځه اروپا کې زیات پرمختګ وکړ. دغه ځای (پارلمان) پخوا د پاچاهانو د مشورو د ځای په نوم یادیده، پاچاهانو به د خپل هیواد د وتلو او مشهورو فیوډالانو، اشرافو او مذهبي مشرانو سره په مهمو مسئلو باندې خبرې کولې. پارلمان به هغه رابلل کیده، کله به چې پاچا د هغه د جوړیدو غوښتنه وکړه. په ۱۱۸۸ ز کال کې په انګلستان کې د ښار مدني اوسیدونکو هم په پارلمان کې ګډون کاوه[2].

په رسمي ډول د پارلمان لفظ په کال ۱۲۳۶ ز کې استعمال شو، دا یو داسې مشورتي مجلس وه، چې د انګلستان پاچا به د اشرافو، مذهبي مشرانو او نورو سره کاوه. پارلمان په لومړیو پیړیو کې داسې یو ځای وه، چې هلته به پاچا د هغه چاسره خبرې او مشورې کولې د چا سره به چې د پاچا خوښه وه. په ۱۳ ز پیړۍ کې اشرافو د پاچا سره مخالفت کاوه، ځکه ځینې اشرافو فکر کاوه، چې پاچا په صحیح ډول سره سلطنت ( پاچاهي ) نه شي کولای. په کال ۱۲۱۵ ز کې داسې یو قرارداد د (Magna Carta) په نوم لاسلیک شو، چې پاچا باید د اشرافو خبرو ته غوږ ونیسي او د هغوی څخه مشورې واخلي[3].

په دیارلسمه میلادي پیړۍ کې پارلمان په عصري شکل رامنځته شو[4].

## د دیارلسمې پیړۍ مهمې پیښې

ځینې مؤرخین د اروپا په تاریخ کې دیارلسمه زیږدي پیړۍ د ټولو پیړیو ستره او لویه پیړۍ نوموي؛ ځکه په دې پیړۍ کې کلتوري تغیرات او نور زیات پرمختګونه رامنځته شول. په ۱۲۰۹ ز کال کې د کمبریج پوهنتون جوړ شو، د همدې پیړۍ په ۱۲۲۰ ز کلونو کې دومنیکان او فرانسویان انګلستان ته راغلل او

1 www.rasekhoon.net
2 www.historyworld.net
3 www.parliament.uk
4 www.infoplease.com



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره ډېر علمي پرمختګونه وشول، په همدې پيړۍ کې د انګلستان د تاريخ يوه توره ورځ هم ده، ځکه چې پاچا جان په ۱۲۰۹ ز کال کې د فرانسې سره په جګړه کې نارمندي سيمه له لاسه ورکړه. د هنري د سلطنت لويه دوره په همدې پيړۍ کې د پارلمان سره په شخړه کې له منځته ولاړه او هغه يې له واکه ګوښه کړ. په کال ۱۲۱۵ ز کې داسې يو قرارداد د (Magna Carta) په نوم لاسليک شو، چې پاچا بايد د اشرافو خبرو ته غوږ ونيسي او د هغوی څخه مشورې واخلي ، په ۱۲۹۵ ز کال پارلمان په نوي شکل باندې رامنځته شو[1].

## انګلستان

د يونان او روم نه وروسته انګلستان، دريم هيواد دی، چې د دموکراسۍ او د هغه د بنسټونو سره اشنا شو[2].

د ايسلنډ د پارلمان نه ورسته، د نړۍ تر ټولو لرغونی پارلمان د انګلستان دی، کوم چې د ديارلسمې زيږدي پيړۍ په اوايلو کې رامنځته شوی دی[3].

انګلستان ته زياتره وخت د پارلمان د منځته راتګ هيواد نوم ورکول کيږي[4]، دا نوم تر ډېره درست ښکاري؛ ځکه چې په انګلستان کې د تاريخ په ډېرو مرحلو کې پارلمان موجود وه، په انګلستان کې د ويسټ منسټر پارلمان لومړنی پارلمان دی، چې پاچا څخه يې ازادي واخيسته[5].

ويليم په ۱۰۶۶ز کال کې په انګلستان باندې يرغل وکړ. ويليم انګلستان د يو کوچني خو دايمي مشورتي مجلس پواسطه اداره کاوه، چې د پاچا د کونسل په نوم يادېده. د مجلس غړي اشراف او د کليسا د مشرانو (روحانيونو) څخه عبارت وه. دا غړي انتخاب شوي نه وه او يوه د انګلستان د ملت نمائندګي نه کوله. په

---

[1] Phil-fak.uni

[2] www.etelaf.com

[3] www.rasekhoon.net

[4] دغه نوم په ۱۸۶۵ز کال د جان برايټ لخوا په لومړي ځل استعمال شو.

[5] www.historyworld.net



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

انګلستان کې دوه ډوله مجلسونو وجود درلود، چې یو یې د Witans او دویم یې د Moots په نوم یادیده. د Witans تاریخ د اتمې عیسوي پیړۍ پورې رسیږي. د Witans دنده د پاچا سوالونو ته ځوابونه او مشوره ورکول وه. پاچا به کله، کله د لویو خلکو (اشرافو او روحانیونو) لویه غونډه هم رابلله، چې د Great Council) په نوم یادیده، چې د وخت په تیریدو سرو (اوس) د House of Lords) په نوم یادیږي[1].

Moots محلي شوراګانې وې، چې په هره سیمه (Shire) کې یې موجودیت درلوده. دوی به د کلیو او سیمو مسلې حل وفصل کولې. دا شوراګانې د کوچنیو مشرانو (The Sheriff and Bishops) څخه جوړې شوې وې.[2]

مجلس په پرمختللي ډول (د پارلمان په بڼه) د لومړي ځل لپاره په انګلستان کې په کال ۱۲۲۵ز کې رامنځته شو. په دې کلونو کې فیوډالانو او د کلیسا اسقفانو د هغه وخت د دیکتاتور پاچا (ژان سانتر) پر ضد پاڅون وکړ او پاچا د ۶۳ مادې پر اساس واک د اشرافو سره وویشه. د منشور په ۳۹ ماده کې د خلکو ازادي تضمین شوه او ددې ازادۍ د تضمین لپاره یوه شورا په کال ۱۲۵۸ز کې د پارلمان په نوم رامنځته شوه، چې د ۲۵ غړو لرونکې وه او دې شورا (پارلمان) پاچا د څارنې لاندې ونیوه[3].

د دیارلسمې عیسوي پیړۍ په لومړیو کې پاچا جان د فرانسې سره جګړه پیل کړه، دغه جګړه د اشرافو او فیوډالو د ټیکسونو په ملاتړ سره پیل شوه، په دې سره فیوډالانو په خپلو سیمو کې په خلکو باندې درندې مالیې وضع کړې. د جګړې یوه میاشت وروسته پاچا د مګنا کارټه قوانین لاسلیک کړل. په دې قوانینو کې داسې ښودل شوي وه، چې پاچا د قانون نه پورته نه دی. په دې کې دا هم ذکر شوي وه، چې پاچا باید د لوی مشورتي مجلس (Great Council) نه مشوره واخلي. په دې ریفرینس کې انفرادي حقوق هم ذکر شوي وه او هم یې د پاچا او

[1] www.peo.gov.au
[2] www.peo.gov.au
[3] www.etelaf.ir



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشرافو واک سره ويشلی وه. د اعلاميي په يوه برخه کې داسې راغلي وه، چې: هيڅ ازاد شخص بايد بندي نشي، ونه شړل شي، ملکيت يې غصب نشي او حقوق يې ورڅخه بايد وانخيستل شي. د مجرم شخص نه بايد د محکمې څخه پرته بل څوک غچ او انتقام وانخلي او هيڅوک بايد د هغه څخه انتقام وانخلي، د محکمې د پريکړې پرته. دغې اعلاميي يا انفرادي حقوقو انګلستان کې د ديموکراسۍ په پرمختګ کې ډېر مهم رول ولوبوه، چې وروسته يې د په امريکا او استراليا باندې هم ستر اغېز وښنده[1].

په کال ۱۲۵۸ ز کې د اکسفورډ پارلمان پاچا باندې داسې قوانين (Magna Carta) وضع کړل، چې پاچا بايد په کال کې د پارلمان سره درې غونډې وکړي او هم دې، په دې غونډو کې د انګلستان نورو اصيلو خلکو ته، چې شمېر به يې دولس تنه وي، د ګډون حق ورکړل شي؛ خو پاچا هنري دريم دغه قوانين ونه منل، مخالفت يې ورسره وکړ او په دې سره د پاچا او پارلمان تر منځ جګړه رامنځته شوه، په پای کې يې ډي مونټ، چې د پارلمان مشر وه، دا جګړه په ۱۲۶۴ز کال کې وګټله[2].

د مګنا کارټه د اصلاحاتو او د پاچا جان د ځای ناستي نه وروسته، د هنري او اشرافو تر منځ شخړې لا هماغسې پاتې شوې، دوی د پاچا سره ځکه وران وه، چې د فرانسې سره په جګړه کې د لاسه وتلې ځمکې يې ولې بيرته ونه نيولې، په ۱۲۵۸ ز کال کې اشرافو پاچا مجبوره کړ، چې بايد يو ۱۵ کسيزه مشورتي مجلس ومني، تر څو د پارلمان سره مشوره وکړي، دوی غوښتل چې پارلمان بايد په کال کې درې ځلې غونډې وکړي او په پارلمان کې بايد ۱۲ داسې کسان وي، چې د عام ولس نمائندګي وکړي[3].

په کال ۱۲۶۵ ز کې ډي مونټ په ويسټ منسټر خونه کې د پارلمان غونډه راوبلله، هغه غوښتل، چې د ټولنې نور غړي هم بايد په دې غونډه کې ګډون

---

[1] www.peo.gov.au
[2] www.parliament.uk
[3] www.peo.gov.au



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

وکړي؛ ځکه يې، نو دوه، دوه نمائندګان د ټولنې د مختلفو طبقو څخه وروغوښتل؛ خو دا داسې پارلمان نه وه، چې د انګلستان د خلکو ريښتني استازي دې په کې ګډون وکړي، دې مونټ خپل ټول مخالفين د پارلمان نه ويستي وه. هغه پارلمانونه، چې د ۱۲۷۵ او ۱۳۰۷ ز کلونو تر منځ د لومړي ايډوارډز لخوا جوړ شوي وه، څه نا څه يې د انګلستان د خلکو نمائندګي کوله، لومړي ايډوارډز به هغه وخت پارلمان رابله، کله به چې يې د پارلمان د جوړيد اړتيا حس کړه او يا به يې د څه شي غوښتنه درلوده. دغه خلک به د انګلستان د خلکو ريښتيني استازي وه، هغه پارلمان چې په کال ۱۲۹۵ ز کال کې د لومړي ايډوارډز لخوا رابلل شوی وه، دوی د ملت ريښتيني استازولي کوله او بيا دا مشهوره شوه، چې دغه پارلمان د راتلونکي لپاره يو ماډل (نمونه) ده[1].

په انګلستان کې په ديارلسمه ميلادي پيړۍ کې پارلمان په عصري شکل رامنځته شو، پاچاهانو خپل لوی خلک په مشورتي مجلس کې ددې لپاره راټولول، چې پاچا ته مشورې ورکړي، په دې ډول په ديارلسمه ميلادي پيړۍ کې رويل کونسل (لوی مشورتي مجلس) منځته راغی، چې د لويو مسئلو په هکله به په کې خبرې اترې کيدلې[2].

د ۱۳۲۷ ز کال نه وروسته په انګلستان کې پارلمان په دايمي توګه غونډې کولې، په ۱۳۳۲ ز کال کې يې نوم په (House of Commons) چې مانا يې ده، د عوامو هغه نمائندګان چې د اشرافو له ډلې سره يې اړيکه نه درلوده، باندې واوښت. په دې وخت کې د انګلستان پارلمان د درې برخو څخه جوړ شوی وه: پاچا، د عوامو نمائندګان(House of Commons) او د لردونو (Lords) څخه. دې مجلسونو به په خپلو کې غونډې نه کولې، بلکه کله به چې پاچا غوښتل؛ نو غونډه به يې رابلله. په ۱۳۴۱ ز کال کې د عوامو مجلس (نمائندګانو) په يوازې ځان (د پاچا د غوښتنې) پرته غونډې کول پيل کړل. د عوامو مجلس به د

---

[1] www.historyworld.net

[2] www.nationalarchivs.gov



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لردونو د مجلس او پاچا څخه دا غوښتنه کوله، تر څو سیمه ایزې او ملي مسئلې حل کړي[1].

د پنځلسمې میلادي پیړۍ په نیمایي کې، د عوامو او اشرافو (لردونو) مجلس دواړو د قانون جوړولو یو شان حق تر لاسه کړ. په لاندې پیښلیک کې د عوامو د مجلس لاسته راوړنې د څوارلسمې او پنځلسمې میلادي پیړۍ په نیمایي کې ښودل شوي دي.

۱۳۶۲- پارلمان ددې حق تر لاسه کړ، چې د ټیکس ټول قراردادونه باید د پارلمان څخه تیر (پاس) شي.

۱۳۷۶- په دې کال د عوامو مجلس سر پیټر میر د خپل مجلس د ویاند په حیث وټاکه.

۱۳۷۷- په دې کال باندې توماس هنګفرډ د پاچا لخوا د مجلس د رسمي ویاند په توګه وټاکل شو.

۱۴۰۷- د ټیکسونو ټول واک د پاچا څخه د عوامو مجلس ته انتقال شو.

۱۴۱۴- داسې پریکړه وشوه، چې هیڅ قانون به د عوامو د مجلس د رضایت څخه پرته نه پاس کیږي[2].

د انګلستان پارلمان په ۱۶۴۲ ز کال کې د پاچا څخه څه نور اختیارات هم واخیستل، پاچا لومړي چارلس په د عوامو مجلس ته ننوت، تر څو د پارلمان پنځه غړي ونیسي؛ خو ناکام شو. د لومړي چارلس او پارلمان اړیکې په تدریجي ډول سره ویجاړیدې، پارلمان لومړی چارلس د دېرو سختو نیوکو لاندې ونیوه؛ ځکه لومړي چارلس د ټیکسونو لوړول غوښتل، د واک پر سر هم شخړې موجودې وې او هم چارلس د پارلمان سره د کتل نه غوښتل، دا هغه مسئلې وې، چې د پارلمان او چارلس تر منځ پرې لانجې رامنځته شوې وې. همدارنګه چارلس، چې

[1] www.peo.gov.au
[2] www.peo.gov.au



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کاتولیک مذهب پیرو وه، د پروتستانتو د مذهب مخالفت یې کاوه. د عوامو د مجلس او پاچا لومړي چارلس تر منځ شخړه په کورنۍ جګړې باندې بدله شوه، په دې جګړه کې پاچا چارلس په ۱۶۴۹ ز کال کې ووژل شو او انګلستان جمهوري(ولسي) اعلان شو، په ۱۶۶۰ ز کال کې بیرته سلطنت رامنځته شو؛ خو د پارلمان او پاچا تر منځ مخالفت او شخړې لا هماغسې موجودې وې[1].

په کال ۱۶۸۸ز کې د پرتمین اوښتون[2] په پایله کې، داسې یوه لائحه (د حقوقو لائحه) تصویب شوه، چې له مخې یې د شاه اختیارات او د پارلمان واکونه سره په دقیق ډول مشخص او جلا شول او انګلستان د یو پارلماني هیواد په بڼه رامنځته شو[3].

په ۱۶۸۹ ز کال کې واک ویلیم او د هغه میرمنې مریم (ماري) ته ورسید او د حقوقو لائحه یې ومنله، ددې لائحې په منلو سره پارلمان نور واکونه هم تر لاسه کړل او قوي شو او هم یې د بیان د ازدۍ او په دایمي ډول د مجلسونو د جوړلو لپاره لاره هواره کړه[4].

د تیوډور په وخت کې په انګلستان کې، د مشرانو جرګې د کړنو د ساتلو لپاره کار پیل شو. په اوولسمه میلادي پیړۍ کې پارلمان د انګلستان په پرمختګ کې مرکزي رول لوباوه او هم یې د انګلستان د خلکو د حقوقو د غوښتلو لپاره زیاتې هڅې کولې[5].

په انګلستان کې پارلمان د لرد (Lords) او د عوامو مجلس او پاچا څخه جوړ شوی دی. د لردونو (Lords) مجلس د ۹۲۶ غړو لرونکی دی، چې ۲۶ غړي یې د روحانیون او د کلیسا وتلي اشخاص دي. د لرد مجلس زیاتره یې ارثي دي، چې د پخوا څخه ورته سیتونه (چوکۍ) پاتې دي او دوی کې زیاتره یې شهزادګان

[1] www.peo.gov.au
[2] The Glorious Revolution
[3] www.etelaf.ir
[4] www.peo.gov.au
[5] www.nationalarchivs.gov



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. پاچا حق لري، چې هر څوک ددې مجلس غړی کړي؛ خو د لومړي وزیر سره مشوره شرط ده[1].

د انګلستان د عوامو مجلس د ۶۳۰ غړو لرونکی دی. ددې مجلس ټاکنې مستقیمي او فردي دي او هره ټاکنیزه حوزه یو نمائنده مجلس ته لیږي. په انګلستان کې ټول واک د پارلمان سره دی، هیڅ قضایي او قانوني څواک نشته، چې د انګلستان د پارلمان پریکړه رد کړي. ټول دولتي او غیر دولتي ارګانونه اړ دي، چې د پارلمان هره پریکړه، چې د دوی په اړه شوي وي، عملي کړي[2].

## د امریکا کانګرس

د امریکا کانګرس په لومړي ځل په ۴ جولایي ۱۷۷۴ ز کال کې جوړ شو د ۱۷۸۰ز څخه تر ۱۸۲۰ز کلونو تر منځ موده د امریکا د کانګرس د جوړولو کلونه نومول شویدي[3].

د امریکا د متحده ایالاتو کانګرس د دوه مجلسونو د نمائندګانو مجلس او د سنا د مجلس څخه جوړ شوی دی[4].

په امریکا کې د قانون جوړول او وضع کول د امریکا د کانګرس دنده ده او د امریکا ولسمشر هم نه شي کولای، چې دغه قانون رد کړي. په امریکا کې هیڅ یو بنسټ نه شي کولای، چې د امریکا کانګرس منحل کړي، په داسې حال کې، چې په نورو اروپایي هیوادونو کې ولسمشر یا لومړی وزیر کولای شوي، چې پارلمان منحل کړي[5].

---

[1] www.hawazh.com
[2] www.hawazh.com
[3] www.answers.com
[4] Wikipedia
[5] Wkidpedia



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۷۸۱ ز کال کې په لومړي ځل کانګرس کې دوه مجلسونه رامنځته شول، چې یو یې د سنا (Senate) او بل یې د نمائندګانو مجلس (House of Representative) دی[1].

په امریکا کې په ۱۷۸۹ز کال کې په لومړي ځل خلکو د نمائندګانو مجلس ته غړي انتخاب کړل[2].

د امریکا د سنا مجلس تقریبا د ۲۲۰ کالو پخوانی تاریخ لري[3]. هر ایالت د سنا مجلس ته دوه سناتوران او د نمائندګانو مجلس کم تر کمه یو غړی رالیږي. د سنا مجلس غړي د هر ایالت لخوا ټاکل کیږي او باید چې عمر یې د ۳۰ کلو څخه زیات وي. د امریکا تابعیت ولري او یا کم تر کمه ۹ کاله په هغه ایالت کې اوسیدلی وي، د کوم ایالت نه چې ځان کاندیدوي[4].

د امریکا په متحده ایالاتو کې د سنا د مجلس او د نمائندګانو د مجلس اختیارات تقریبا یو شان دي[5].

## د فرانسې ملي اسمبلۍ

په فرانسه کې سټیټ[6] په لومړي ځل په کال ۱۳۰۲ ز کې د فرانسوي پاچا فلیپ په وخت کې غونډه وکړه، دوی په نوتر دام (پاریس) کې ددې لپاره راټول شوي وه، چې د پاچا اړیکې د پاپ (بانوفیس) سره وڅیړي، سټیټ د پاچا ملاتړ وکړ، سټیټونو د ۱۴ ز پیړۍ په جریان کې په مسلسل ډول باندې غونډې کولې[7].

---

[1] www.answers.com
[2] www.answers.com
[3] Wikipedia
[4] www.asnwers.com
[5] www.hawzah.com
[6] Estate generals
[7] www.historyworld.net



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

فرانسه لومړنی هیواد دی، چې پارلمان په کې د پارلمان د اساسي اصولو په اساس رامنځته شو. د دیارلسمې میلادي پیړۍ په نیمایي کې د فرانسې پاچا لوئس په خپل قصر کې مشاورین ومنل، چې هلته به په کال کې څلور ځلې غونډې کوي، د فرانسې پارلمان په ۱۴ میلادي پیړۍ کې سیاسي واک تر لاسه کړ، په ۱۷ پیړۍ د فرانسې پارلمان د پاچا د مخالفې جبهې په اساس دنده اجراء کوله[1].

د فرانسې معاصر سیاسي تاریخ د ۱۷۸۹ ز څخه پیل کیږي، یانې د فرانسې لوی انقلاب د فرانسې د معاصر سیاسي تاریخ پیل دی. په حقیقت کې دغه انقلاب د پاچاهانو د مطلقه قدرت د محدودولو لپاره وه، تر څو په فرانسه کې مشروطه نظام رامنځته کړي[2].

په فرانسه کې د پارلماني نظام تاریخ د ۱۷۸۹ز کال د مۍ د میاشتې څخه پیل کیږي. د مۍ په ۵ شپاړسم لویي د هیواد مشران، روحانیون او شاه خپل مشاروین، د سیاسي او ټولنیزو بحرانونو د حل لپاره راوغوښتل او د وارسا په ماڼۍ کې یې یوه ځانګړې غونډه جوړه کړه[3].

د جون د ۱۷ څخه تر د جولایي ۹-۱۷۸۹ ز کال پورې ددغې اسمبلۍ نوم انقلابي اسمبلۍ وه، د پورته نیټې څخه وروسته تر د ۱۸۷۱ ز کال پورې بیا د ملي اسمبلۍ نوم نه دی یاد شوی[4].

په همدې ۱۷۸۹ز کال د مۍ په ۱۷ د غونډې ګډونوالو، چې زیاتره یې حقوق پوهان وه، دوی ځانونه د ملي مجلس په نوم ونومول، د دوی هدف دا وه، چې ځانونه د ملت د نمائندګانو په بڼه وښيي[5].

---

[1] www.historyworld.net
[2] www.bashgah.net
[3] www.bashgah.net
[4] www.britanica.com
[5] www.bashgah.net



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

په ۱۷۹۹ز کال کې جمهوري عصر پیل شو، چې تر اوسه پورې فرانسې پنځه جمهوري نظامونه لیدلي، چې په هر جمهوري نظام کې د فرانسې په اساسي قانون او د پارلمان په رول کې عمده تغیرات لیدل شوي دي[1]

د فرانسې پارلمان د دوه مجلسونو څخه جوړ شوی دی، چې یو یې د سنا مجلس او بل یې د ملي مجلس په نوم یادیږي[2].

د فرانسې د سنا مجلس ۴۲۶ غړي لري. سناتوران په دوه طریقو انتخابیږي. ۴۲۰ یې په مستقیم ډول او پاتې ۶ یې د امپراتور پواسطه انتخابیږي[3].

په فرانسه کې د جمهوري عصر د پیل کیدو نه وروسته پنځه جمهوریتونه تېر شوي دي. لومړی جمهوریت د ۱۷۹۹ ز نه تر ۱۸۰۴ ز کال پورې دوام درلود. پدې دوره کې ناپیلیون بوناپارت د لومړي کونسل په توګه دنده اجراء کوله او د۱۸۰۴ ز کال نه وروسته تر ۱۸۱۴ ز کال پورې یې د فرانسې د امپراتور په حیث مشري کړېده.

دویم جمهوریت د ۱۸۴۸ ز کال نه تر ۱۸۵۱ ز کال پورې دوام وکړ. په ۱۸۴۸ ز کال کې لویي فیلیپ استعفاء وکړه. د ۱۸۵۱ ز کال نه وروسته حکومت د دریم ناپیلیون په لاس پریوت.

دریم جمهوریت د ۱۸۷۰ ز کال څخه پیل کیږي، تر ۱۹۴۰ ز کال پورې یې دوام وکړ. په ۱۸۷۰ ز کال کې د المان سره په جګړه کې د فرانسې امپراتوري له منځه ولاړه او دریم جمهوریت په ۱۹۴۰ ز کال د نازي المان لخوا له منځه ولاړ.

څلورم جمهوریت په ۱۹۴۴ ز کال کې رامنځته شو او د ۱۹۵۸ ز کال پورې یې دوام وکړ. پنځم جمهوریت په ۱۹۵۸ ز کال کې د جنرال دوګل لخوا رامنځته

[1] www.bashgah.net
[2] Wikipedia
[3] Althistory.wikia.com



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شو. جنرال دوګل د یوې ټولپوښتنې له لارې انتخاب شو او د عمومي رایو پواسطه یې د فرانسې د اساسي قانون اساس کېښود[1].

## روسي دوما

د ۱۹۰۵ز کال د انقلاب نه وروسته په ۱۹۰۶ ز کال کې روسي دوما[2] جوړه شوه[3].

د ۱۹۰۶ز کال د مۍ په لسمه دوما خپله لومړنی غونډه وکړه. دوما تزار نیکولس دویم ته ځینې اصلاحات وړاندې کړل، چې کیدای شي د روسي حالات ورسره ښه شي[4].

د ۱۹۱۷ ز کال د انقلاب نه وروسته دوما خپل موجودیت وساته؛ خو کله چې په ۱۹۹۱ ز کال کې پخوانی شوروي اتحاد ړنګ شو. په ۱۹۹۳ ز کال کې دوما په State Duma باندې بدله شوه[5].

روسي دوما د ۴۵۰ نمائندګانو څخه جوړه شوې ده. څلور کاله یې یوه قانوني دوره ده او هر هغه روسي، چې عمر یې د ۲۱ کالو څخه زیات وي، کولای شي، چې د روسي دوما غړیتوب تر لاسه کړي[6].

---

[11] www.bashgah.net
[2] DUMA
[3] Wikipedia
[4] www.historylearningsite.com
[5] www.britanica.com
[6] www.hawzah.com



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اذربایجان ملي مجلس

د اذربایجان د پارلمان تاریخ د شلمې پیړۍ لومړیو کلونو ته رسیږي، کله چې په روسیه کې لومړنی دوما رامنځته شوه، د اذربایجان څخه شپږ تنه د روسي دوما غړي وه[1].

د اذربایجان ملي مجلس په اسلامي نړۍ کې لومړنی لادینه مجلس وه، چې رامنځته شو، دې مجلس ۱۲۵ غړي درلودل[2].

د ۱۹۱۸ز کال د مۍ په ۲۵ پارلمان لومړنی غونډه وکړه او مۍ په ۲۸ یې محمد امین د پارلمان د لومړي مشر په توګه وټاکه[3].

د اذربایجان پارلمان د ۸۰ مسلمانانو، ۲۱ ارمنیانو، ۱۰ روسانو، ۱ الماني او ۱ یهودي څخه جوړ شوی وه[4].

په ۲۲ د اپریل د اذربایجان پارلمان د پولنډ، برطانیې، ایټالیې، سویډن، د امریکا متحده ایالاتو او فرانسې سره د اړیکو ساتلو یوه لائحه تصویب کړه؛ خو د اپریل په ۲۸ روسي سره پوځ لخوا پرې یرغل وشو، ویې نیوه او پارلمان یې ور ړنګ کړ[5].

---

1 www.visions.az
2 Wikipedia
3 www.visions.az
4 www.visions.az
5 www.visions.az



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ۱۹۲۰ ز کال روسي سره پوځ اذربایجان ونیوه او ټول قدرت یې په خپل لاس کې واخیست او د اذربایجان د اداره کولو لپاره یې ۷۵ کسیزه کمیټه جوړه کړه[1].

کله چې په ۱۹۹۱ ز کال کې پخوانی شوروي اتحا ړنګ شو؛ نو اذربایجان خپله ازادي واخیستله. د نومبر په ۱۵ یو ټولپوښتنه وشوه او د نومبر په ۲۶ یو ملي کونسل جوړ او یوه اداره یې رامنځته کړه. د ۱۹۹۲ په پسرلي کې د پارلمان د جوړیدو په اړه غونډه وشوه[2].

## د ایران د شورا مجلس

په ۱۹۰۶ز کال په ایران کې د مشروطیت فرمان د شاه مظفرالدین لخوا صادر شو.ددې فرمان په اساس خلکو د داسې مجلس د جوړولو اجازه پیداکړه، چې تر څو خپل منتخب نمائندګان مجلس ته ولیږي او د دولت وزیرانو ته مشوره ورکړي. وروسته په همدې کال د ملت نمائندګان د درې څلورو زرو په شاوخوا کې روحانیون، تجاران او شهزادګان په نظامیه مدرسه کې سره راټول شول. جلسې ته لومړي وزیر خبرې وکړې. وروسته د خبرو څخه یو مؤقت مجلس جوړ شو، چې غړي یې د ملت لخوا نه وه ټاکل شوي. یوه دولس کسیزه کمیټه وګمارل شوه، چې تر څو د مجلس لپاره د انتخاباتو قانون (نظامنامه) جوړه کړي. وروسته د شاه مظفرالدین شاه لخوا لاسلیک شو او د ۱۹۰۶ ز کال د سپتمبر په ۱۶ په تهران کې انتخابات وشول. د اکتوبر په ۷ نیټه مجلس رسماً پرانستل شو. د اکتوبر په ۱۱ د تهران د انتخاباتو پایلې اعلان شوې[3].

---

[1] Wikipedia

[2] www.visions.az

[3] www.iichs.org



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ایران د شورا د مجلس غړي د ملت نمائندګان دي، چې په مستقیم ډول په پټو رایو سره د خلکو لخوا ټاکل کیږي. د ایران د شورا مجلس دوره څلور کاله ده[1].

## د پاکستان پارلمان

د ۱۹۴۷ ز کال د جون په ۳ د هند وروستي انګریز وایسرای لارډ لوئس د هند د لویې وچې د ټولو مشرانو د رابللو اعلان وکړ، تر څو واک سره وویشي[2].

د جولایي په ۲۶ د پاکستان لومړنی مجلس جوړ شو، چې ۶۶ غړي یې درلودل او یوه غړې یې ښځینه وه[3].

د مجلس غړي د اګست په ۱۰ د سند ایالت په تعمیر کې، چې د کراچۍ په ښار کې دی، سره راټول شول. د اګست په ۱۰ او ۱۱ د مجلس ۵۸ غړو لوړه وکړه. د اګست په ۱۱ قائد اعظم محمد علي جناح د مجلس د لومړي مشر په توګه وټاکل شو او همدلته د پاکستان ملي بیرغ هم منظور شو[4].

د اګست په ۱۴ نیټه واک د انګریز وایسرای لارډ لوئس نه پاکستاني اسمبلۍ (مجلس) ته ولیږدول شو او قائد اعظم محمد علي جناح د پاکستان د لومړي ګورنر په حیث وټاکل شو[5].

---

1 www.020.ir
2 Nationalassembly.tripod.com
3 Nationalassembly.tripod.com
4 www.na.gov.pk
5 www.na.gov.pk



www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نړۍ کې د پارلمانونو منځته راتګ

## پای



www.ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**